# افغانستان

## په وسله واله جګړه کې د ملکيانوخونديتوب

## لومړنی ربع: د ۱ جنوری- ۳۱ مارچ ۲۰۲۰

د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ نه د مارچ تر ۳۱ پورې، يوناما ۱۲۹۳ ملکي تلفات (۵۳۳ مړه او ۷۶۰ ټپيان) مستند کړي، کوم چې دا په ډاګه کوي چې په افغانستان کې جګړه د ولسي وګړو لپاره په نړۍ کې تر ټولو خونړۍ جګړه ګڼل کيږي، دا په داسې حال کې ده چې د کویډ-۱۹ اغيز په افغانستان کې د ټولو کسانو لپاره يو ګواښ رامنځ ته کړی. د يوناما له خوا د ماشومانو د ۴۱۷ تلفاتو (۱۵۲ مړه او ۲۶۵ ټپيان) او د ښځو د ۱۶۸ تلفاتو (۶۰ مړي او ۱۰۸ ټپياني) په مستند کولو سره، پر ښځو او ماشومانو د جګړې دوامدار اغيز د ځانګړې انديښنې وړ دی. د ۲۰۱۹ کال د لومړۍ ربع په پرتله د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ ربع کې د ملکي تلفاتو عمومي شمير ۲۹ سلنه راټيټ شوی، او له ۲۰۱۲ کال راهيسې د يوې ربع تر ټولو ټيټ ارقام ګڼل کيږي.

يوناما يو ځل بيا د دې يادونه کوي چې د جګړې او د کویډ-۱۹ له اغيز څخه د ملکي وګړو د ساتنې تر ټولو غوره لار د جګړې درول دي. نومورې اداره په افغانستان کې د جګړې پر ټولو ښکيلو خواوو غږ کوي چې د نړيوال اوربند[1] لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ورورستی غوښتنې ته ژر تر ژره ځواب ووايي، ځو وکولای شي په دغه کار سره د کویډ-۱۹ د بشري لازم






غبرګون د برابرولو لپاره اړین تمرکز او سرچینې برابرې کړای شي. د جګړې پای ته رسول به ملکي وګړي د جګړې له اړوند زیان څخه وژغوري او د روغتیایي کارمندانو او د بشري مرستو نورو کارکوونکو ته به د دې زمینه برابره کړي چې خپل فعالیتونو له نا مناسبو محدودیتونو پرته او په خوندي ډول ترسره کړي، او په دې توګه به د کوید-۱۹ ناروغۍ پرمهال مخه نیوونکي او ژغورونکي تدابیر رامنځ ته شي.

د کال د لومړۍ ربع پر مهال دولت ضد عناصر د زیاتره ملکي تلفاتو – ۵۵ سلنه – مسوول وو، چې ۷۱۰ ملکي تلفات (۲۸۲ مړه او ۴۲۸ ټپیان) یې اړولي. یوناما د دغو تلفاتو ۳۹ سلنه طالبانو، ۱۳ سلنه د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې او پاتې نور یې نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي.

د ۲۰۲۰ کال د لومړۍ ربع پر مهال دولت پلوه ځواکونه د ټولو ملکي تلفاتو د ۳۲ سلنې مسوول وو، چې ۴۱۲ ملکي تلفات (۱۹۸ مړه او ۲۱۴ ټپیان) یې اړولي. د اندېښنې وړ ده چې د کال په لومړیو دریو میاشتو کې دولت پلوه ځواکونه د دولت ضد عناصرو په پرتله د ماشومانو د زیاتو تلفاتو او د ماشومانو د دوه برابره مړینو مسوول وو، چې زیاتره یې د هوایي بریدونو او د ځمکنیو نښتو پر مهال د غیر مستقیمو وسلو د کارونې له امله رامنځ ته شوي. یوناما د ټولو ملکي تلفاتو ۲۱ سلنه افغان ملي امنیتي ځواکونو، اته سلنه نړیوالو پوځي ځواکونو او پاتې نور یې دولت پلوه وسله والو ډلو ، نا معلومو یا ګډ شمېر دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي.

یوناما د مارچ په میاشت کې په ځانګړي ډول د طالبانو له خوا د افغان ملي امنیتي ځواکو په وړاندې د مشاهده شوي

**د مارچ په میاشت کې د مشاهده شوي مخ پر ډېریدونکي تاوتریخوالی او له امله یې مخ په ډېریدونکي ملکي تلفات او زیان په اړه یوناما ژوره اندېښمنه ده**

## یوناما په ۲۰۲۰ کال کې په ځانګړي ډول د دولت ضد عناصرو له خوا په لومړۍ ربع کې د ملکي وګړو د قصدي هدفي وژنو کې ډېرښت له امله اندېښمنه ده

تاوتریخوالي په اړه سخته اندېښمنه ده، په ځانګړي ډول د هیواد په شمالي او شمال ختیځو سیمو کې،[2] د ملکي تلفاتو د شمیر او زیان د زیاتوالی لامل شوي . دغه جریان تر ټولو د زیات پام وړ هغه وکوم چې د دولت پلوه ځواکونو او طالبانو ترمنځ په تاوتریخوالي کې د کمښت اونۍ – د فبروري له ۲۲ تر ۲۸ نېټې پورې – په تعقیب رامنځ ته او بیا د فبروري پر ۲۹ نېټه د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ پر یوه تړون تمام شو.

ځمکنۍ نښتې د ټولو ملکي تلفاتو د یو پر دریېمې برخې په اړولو سره د تلفاتو مخکښ لامل و چې په تعقیب یې هدفي وژنې او غیر انتحاري ځای پر ځای شوي چاودیدونکي د تلفاتو مخکښ لاملونه ګڼل کیدل. هدفي وژنې د ملکي وژلو مخکښ لامل و. په ترتیب سره په کابل، بلخ او فاریاب ولایتونو کې میشت ولسي وګړي له دغو پېښو تر ټولو زیات اغیزمن شوي. په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې په پرتله د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ ربع کې دولت ضد عناصرو – په ځانګړي ډول طالبانو – ته منسوب شوي د ملکیانو د وژلو شمیر ۲۲ سلنه لوړ شوی، چې زیاتره یې په هدفي او صحرایي وژنو کې د هېښوونکي زیاتوالي له امله رامنځ ته شوی. له دې سره سره چې د ټولې ربع لپاره یوناما د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا په اړول شویو ملکي تلفاتو کې د پام وړ کموالی مستند کړی، خو یوناما د مارچ په میاشت کې د دغو ځواکونو د عملیاتو له امله په ملکي تلفاتو کې د زیاتوالي په اړه اندېښمنه ده، چې په عمده ډول د ځمکنیو نښتو په تیره بیا د غیر مستقیمو وسلو د کارونې او هوایي بریدونو په پایله کې رامنځ ته شوي.

### د دولت ضد عناصر

دولت ضد عناصر د کال په لومړۍ ربع کې د زیاترو ملکي تلفاتو – ۵۵ سلنه – مسوول پاتې شوي، چې ۷۱۰ ملکي تلفات (۲۸۲ وژل شوي او ۴۲۸ ټپیان) یې اړولي. یوناما ۳۹ سلنه ملکي تلفات طالبانو،[3] ۱۳ سلنه د عراق او شام د اسلامي دولت - خراسان ولایت ډلې[4] او پاتې نور یې نا معلومه دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي.

یوناما د ۲۰۱۹ کال د ورته مودې په پرتله د ۲۰۲۰ کال په لومړیو دوه میاشتو کې طالبانو ته په منسوب شویو ملکي تلفاتو کې په ځانګړي ډول په ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو کې د پام وړ کموالی تایید کړی. خو له دې سره سره، په تاوتریخوالي کې د کمښت د اونۍ او د فبروري د ۲۹ نېټې د تړون تر لاسلیک وروسته د تیر کال په پرتله په عمده ډول د غیر انتحاري ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو، ځمکنیو نښتو او هدفي وژنو له امله په ملکي مړینو کې د پام وړ زیاتوالی له امله، طالبانو ته منسوب شوي ملکي تلفات لوړ شوي.

یوناما د ۲۰۱۹ کال په پرتله د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ ربع کې د ملکي وګړو د عمدي هدف ګرځونې له امله په ملکي مړینو کې د زیاتوالي په اړه اندېښمنه ده. په دغو پېښو کې په مارچ میاشت کې د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې له خوا ترسره شوې له رسوایي/بد نامې ډکې دوه لویې د ډزو پېښې شاملې دي چې داعش یې د مسؤلیت ادعا هم کړې: د مارچ پر ۶ نېټه په کابل کې د هزاره توکمو د مشر پر تلین برید چې له امله یې ۳۴ ملکیان ووژل شول او ۷۸ نور ټپیان شول، او د مارچ پر

**د تاکتیکونو پر بنسټ د ملکي وګړو مرګ ژوبله**
**د ۱ جنوري څخه تر ۳۱ مارچ ۲۰۲۰**




۲۵ نېټه په کابل کې په یوه درمسال کې پر سیک عبادت کوونکو برید چې له امله یې ۲۶ ملکیان ووژل شول او ۱۱ نور ټپیان شول. د طالبانو له خوا د ملکیانو په هدفي وژنو کې د راتلونکو افرادو وژنې شاملې دي: د جنوري پر ۲۰ نېټه د پکتیا ولایت په ځاځي اریوب ولسوالۍ کې د یوه روغتیایي کارمند؛ د فبروري پر ۱۷ نېټه د هرات ولایت په انجیل ولسوالۍ کې د یوه قاضي او د مارچ پر ۱۳ نېټه د ننګرهار ولایت په خوګیانو ولسوالۍ کې د یوه ښوونکي وژل شامل دي.

یوناما د ۲۰۱۹ کال په پرتله د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ ربع کې د طالبانو له خوا د ولسي وګړو په تښتونو کې یو هېښوونکی زیاتوالی مستند کړی، چې په دغو پېښو کې زیاتوالی د فبروري په پای کې په تاوتریخوالي کې د کمښت د اونۍ او تر هغې وروسته د مارچ میاشتې په موده کې رامنځ ته شوي.[5] یوناما د هرات ولایت په کشک ولسوالۍ کې د مارچ د ۶ نېټې د پېښې په ګډون په کومه کې چې د طالبانو له خوا د یوه ښوونکي په ګډون اوه نارینه له کلي څخه څو کیلو متره لرې تښتول شوي او وژل شوي وو، د تښتونو د هغو پېښو په اړه سخته اندېښمنه ده چې په صحرایي وژنو تمامیږي.[6]

سربېره پر دې، یوناما په لاس جوړ چاودیدونکو توکو د فشاري ماینونو له امله کوم چې د پرسونل ضد ماینونو په څیر کار کوي په ملکي مړینو کې زیاتوالی مستند کړی. د لومړۍ ربع پر مهال، یوناما د فشاري ماینونو له امله ۱۰۰ ملکي تلفات (۴۷ وژل شوي او ۵۳ ټپیان) مستند کړي چې ټول هغه یې طالبانو ته منسوب شوي.

یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې تر نړیوال قانون لاندې د ملکیانو یا ملکي شیانو عمدي په نښه کول منع دي؛ د جګړې د ښکیلو لورو د هر طرف له خوا د هغو کسانو وژل چې په فعال ډول په جګړو کې ګډون نه کوي د جنیوا کنوانسیونو د دریمې مشترکې مادې له خوا هر وخت هر ځای په څرګند ډول منع شوي او ښايي جنګي جرمونه وګڼل شي. سر بیره پر دې، د په لاس جوړ توکو فشاري ماینونه چې د قرباني په وسیله فعالیږي په طبیعي ډول بې توپیره دي او له همدې امله هر وخت غیر قانوني ګڼل کیږي.

**دولت پلوه ځواکونه**

د ۲۰۲۰ کال د لومړۍ ربع پر مهال دولت پلوه ځواکونه د ټولو ملکي تلفاتو د ۳۲ سلنې مسوول وو، چې د ۴۱۲ ملکي تلفاتو (۱۹۸ وژل شوي او ۲۱۴ ټپیان) لامل شوي. د اندېښنې وړ ده چې دولت پلوه ځواکونه د کال په لومړیو درېو میاشتو کې د دولت ضد عناصرو په پرتله د ماشومانو د زیاتو تلفاتو او د ماشومانو د دوه برابره مړینو لامل شوي،[7] چې په عمده ډول د هوايي بریدونو او د ځمکنیو نښتو پر مهال د غیر مستقیمو ډزو په پایله کې اوښتي. یوناما د ټولو ملکي تلفاتو ۲۱ سلنه افغان ملي امنیتي ځواکونو،[8] اته سلنه نړیوالو نظامي ځواکونو[9] او پاتې نور هغه دولت پلوه وسله والو ډلو او نا معلومه یا ګډ شمېر دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي. د ملکي تلفاتو د ربع وروستۍ پېښه نړیوالو نظامي ځواکونو ته منسوب شوې کومه چې د فبروري پر ۱۷ نېټه د تاوتریخوالي تر اونۍ مخکې هغه مهال رامنځ ته شوه کله چې د هرات ولایت په کشک ولسوالۍ د یوه هوايي برید له امله اته ملکي تلفات (درې ښځې او پنځه ماشومان وژل شوي) واوښتې.

یوناما د چاڼیزو عملیاتو له امله د لږو ملکي تلفاتو په ګډون د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا په اړول شویو ملکي تلفاتو کې د پام وړ کموالی مستند کړی. له دې سره سره، یوناما د مارچ په دویمه نیمه یې کې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته په منسوب شویو ملکي تلفاتو کې د زیاتوالي په اړه اندېښمنه ده، چې په عمده ډول د ځمکنیو نښتو او هوايي بریدونو په پایله کې رامنځ ته شوي.

د ۲۰۲۰ کال د لومړۍ ربع پر مهال د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا اړول شوي زیاتره ملکي تلفات د ځمکنیو نښتو پر مهال او په ځانګړي ډول د غیر مستقیمو ډزو د کارونې له امله رامنځ ته شوي. د بېلګې په ډول، د فبروري پر ۷ نېټه د بلخ ولایت په زارع ولسوالۍ کې افغان ملي اردو پر ملکي میشتې سیمې نږدې لسګونو هاونونه وتوغول چې له امله یې دوه ولسي تلفات (یوه ښځه او یوه ۱۴ کلنه نجلۍ) او نهه تنه ژوبل چې زیاتره یې ښځې او ماشومان وو، رامنځ ته شوې. د مارچ پر ۱۶ نېټه د کندز ولایت په خان اباد ولسوالۍ کې، اته ملکیان (د شپږو هلکانو په ګډون) هغه مهال ووژل شول او درې نجونې ټپي شوې کله چې د افغان ملي اردو د یوې هدېې څخه توپونه و توغول شول چې طالبان په نښه کړي ، چې د هغې سره راټول ملکي خلکو باندې ولګېدې.[10]

یوناما دغه راز د کندز ولایت په امام صاحب ولسوالۍ کې د مارچ د ۲۱ نېټې د هوايي برید په ګډون په کوم کې چې طالبان په نښه شوي وو او له امله یې د اوو ماشومانو او درېو ښځو په ګډون ۱۱ ملکیان ووژل شول او یوه ښځه او یوه نجلۍ ټپي شول، د افغان هوايي ځواک له خوا د هغو وروستیو هوايي بریدونو په اړه اندېښمنه ده چې د ملکي زیان لامل شوي.

یوناما یو ځل بیا پر افغان دولت غږ کوي چې په ملکي ګڼ میشتو سیمو کې د غیر مستقیمو وسلو (هاوانونه، راکېټونه او لاسي بمونه) او پر پراخې سیمې د اغیز شیندونکو نورو

## د کوید-۱۹ وبا پر مهال، دا ډول هر یو پیښه چې روغتیایی مرکزونه یا یې پرسونل اغیزمنوي کولای شي په ځانګړي ډول جدي او پراخې پایلې ولري او اړین طبي خدمتونو ته د افرادو لاسرسي اغیزمن کړي

چاودیدونکو توکو کارونه ودروي او د تاکتیکي لارښودونو، د نښتو د قواعدو او د جنګي الوتکو د کارونې په تړاو د طرز العملونو طرح کول او ښه کول جاري وساتي.

**هغه پېښې چې د کویډ- ۱۹وبا پر مهال روغتیايي مرکز ونه او کارکونکي اغیزمنوي**

یوناما د ۲۰۲۰ کال د لومړۍ ربع پر مهال ټولټال ۱۸ پیښې چې روغتیا پالنه اغیزمنوي تایید کړي، د دغو پېښو له جملې څخه ۱۷ هغه یې طالبانو ته منسوب شوي.[11] د طالبانو په پیښو کې یو مستقیم برید شامل و چې په یوه کلینیک یې برید کړی و. په سیمه کې د جګړې له امله عمدي وژنې ترسره شوي، خوندي پرسونل تښتول شوی، د روغتیا پالنې د پرسونلو او مرکزونو پر وړاندې ګواښونه ترسره شوي او د روغتیا پالنې مرکزونو ته زیانونه اوښتي. د هیواد په کچه د ګواښونو له امله نږدې ۵۰ کلینیکونه په موقت ډول تړل شوي او تر ټولو زیاتې پیښې د هیواد په ختیځه سیمه کې پیښې شوي.

د افغانستان د عامې روغتیا وزارت په هیواد کې د کویډ-۱۹ کورونا ویروس لومړنۍ نوې پیښه د فبرورې په ۲۴ نیټه تایید کړه.[12] د لومړۍ ربع تر پای پورې، د کویډ-۱۹ ټولټال ۱۹۶ پیښې تصدیق شوې او هرات ولایت د هیواد د تر ټولو اغیزمنې سیمې په حیث پاته شوی. د دې راپور د لیکلو پر مهال په سلهاوو نورې پیښې هم تصدیق شوې.[13]

د یوې وبا په حیث د کویډ-۱۹ د اعلانولو په تعقیب، طالبانو د مارچ په ۱۶ او ۱۸ عامه بیانونه خپاره کړل او په هغو کې یې ویلي چې دوی به د کویډ-۱۹ وبا سره د مبارزې په برخه کې د نړیوالو سازمانونو سره کار وکړي او همدارنګه به د هغوی تر کنټرول لاندې سیمو کې د طبي سامان الاتو، درملو او مرستو د لیږد لپاره اسانتیا برابره کړي.[14] که څه هم چې د بیانونو تر خپریدو وروسته، یوناما دوه داسې پیښې په کومو کې چې طالبان ښکیل وو او روغتیا پالنه اغیزمنوي، ثبتې کړې. د ۲۰۲۰ د مارچ په ۲۲، د کنړ ولایت په چپه دره ولسوالۍ کې، د طالب جنګیالیو یوې ډلې پنځه دولتي روغتیايي کارکونکي او د هغوی موټر چلونکی، څوک چې د یوه روغتیايي کلینیک د ارزولو لپاره په سیمه کې موجود وو، وتښتول. د دوو ورځو په بند کې ساتلو وروسته ، یاد کسان د قومي مشرانو په منځګړیتوب را خوشې شول. د ۲۰۲۰ د مارچ په ۲۴، د تخار ولایت د دشت قلعه په ولسوالۍ کې، د طالبانو او افغان ملي امنیتي ځواکونو تر منځ په سیمه کې جګړه ونښتله. یوه روغتون ته نږدې ډزې پیل شوې چې د دریو ساعتونو لپاره یې دوام وکړ، طالبانو او افغان ملي امنیتي ځواکونو پر یو بل غیر مستقیم ډول ویشتونکې وسلې کارولې. د طالبانو له خوا یو توغول شوی راکیټ د ولسوالۍ په مرکز کې په یوه بازار راپریوت چې په نتیجه کې یې یو ۱۴ کلن ماشوم ووژل شو او د دوه هلکانو په شمول یې درې نور ملکیان ټپیان کړل. محلي روغتون ته د دې له امله زیان واوښت ځکه چې جګړه روغتون ته خیرمه وه.

د نړیوال بشر دوستانه قانون په رڼا کې روغتیايي مرکزونه او کارکونکي یې باید په ټول حالاتو کې یې درنښت وشي او

**په جګړه کې د ښکېلو ډلو له خوا ملکي تلفات**
**د ۱ جنوري څخه تر ۳۱ مارچ ۲۰۲۰**




خونديتوب ولري.[۱۵] په روغتيايي مرکزونو او خونديي وګړو قصدي بريدونه کيداى شي نړيوال جنګي جرايم وبلل شي.[۱۶] د کويد-۱۹ وبا پر مهال، دا ډول هر يو پيښه چې روغتيايي مرکزونه يا يې پرسونل اغيزمنوي کولاى شي په ځانګړي ډول جدي او پراخې پايلې ولري او اړين طبي خدمتونو ته د افرادو لاسرسي اغيزمن کړي. يوناما په ټولو ښکيلو ډلو غږ کوي چې روغتيايي مرکزونو ته خيرمه جګړې او همداراز په ګڼ ميشتو سيمو کې د غير مستقيمو ډزو (د هاوانونو، راکيټونو، لاسي بمونو) کارول چې ممکن روغتيايي مرکزونه، طبي ترانسپورټ او د روغتياپالنې چارو ته د ناروغانو لاسرسی اغيزمن کړي، ژر تر ژره ودروي. يوناما پر طالبانو غږ کوي چې د روغتيايي مرکزونو او کارکونکو پر وړاندې ټول مستقيم بريدونه او ګواښونه او همدارنګه د روغتيايي کارکونکو تښتول ژر تر ژره ودروي.

***میتودولوژي***

*د ملکي کسانو په اړه د دې راپور د موخو لپاره، يوناما يوازې د ملکي کسانوتاييد شويو تلفاتو ته ځاى ورکوي اودغه په راپور کې شاملوي. د يوناما له خوا د کتل شويو معلوماتو د بشپړوالي پر بنسټ ملکي تلفات د "تاييد" شويو په حيث ريکارډ کيږي، دا تاييد شويوي چې روښانه او د قناعت وړ شواهد شتون لري چې ملکيان وژل شوي او ټپيان شوی دي. د دې په خاطر چې دا معيار ترلاسه شي، يوناما کم ترکمه دريو او خپلواکو سرچينو ته دبلګې په توګه، قرباني، شاهد، ډاکټر، ځايي چارواکو، د شخړې د يوې ښکيلې ډلې له لخوا تصديق، د ټولنې مشر يا*

*نورو سرچینو ته اړتیا لري. چیرې چې ممکن وي، معلومات د قربانیانو یا د پېښې د شاهدانو د ابتدايي معلوماتو څخه یا د پېښې په ځای کې د حقیقت موندنې له لارې تر لاسه کیږي. په هغه صورت کې چې یوناما د ملکي تلفاتو په تړاو د معلوماتو د اعتبار او باوریتوب په اړه قناعت و نه لري، نو د تایید شویو په حیث یې نه ریکارډ کوي. نا تایید شوې پېښې په دې راپور کې نه دي شاملې. یوناما ادعا نه کوي چې په دې راپور کې ځای شوې احصایې بشپړې دي، په عملیاتي چاپېریال کې د محدودیتونو په نظر کې نیولو سره، په خاص ډول د هغو وروستیو ننګونو په پام کې نیولو سره چې د کوېډ-۱۹ وبا له امله د خوځښت د محدودیتونو پواسطه را منځ ته شوي ممکن کم ملکي تلفات راپور شوي وي.*

د نورو تفصیلي معلوماتو لپاره، په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د یوناما کلني راپورونو ته مراجعه وکړئ چې په لاندې انټرنیټي پته د لاسرسي وړ دي: http://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports

[1] دغه انټرنیټ پاڼه وګورئ: https://www.un.org/press/en/2020/sgsm20032.doc.htm.

[2] یوناما د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ ربع کې د هرې میاشت پر سر راټلونکي ټولټال ملکي تلفات مستند کړي: په جنوري میاشت کې ۳۷۵ ملکي تلفات (۱۶۹ وژل شوي او ۲۰۶ ټپیان)؛ په فبروري میاشت کې ۳۶۲ ملکی تلفات (۱۵۱ وژل شوي او ۲۱۱ ټپیان؛ او په مارچ میاشت کې ۵۵۶ ملکي تلفات (۲۱۳ وژل شوي او ۳۴۳ ټپیان).

[3] ۴۹۰ ملکي تلفات (۲۱۱ وژل شوي او ۲۷۹ ټپیان).

[4] ۱۷۳ ملکي تلفات (۶۲ وژل شوي او ۱۱۱ ټپیان).

[5] د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ ربع کې، یوناما د طالبانو له خوا د ۲۰۱۹ کال د ورته ربع د ۱۴۶ تښتول شویو افرادو په پرتله د ۳۰۳ کسانو تښتونې مستندې کړې. د ۲۰۲۰ کال د فبروري له ۲۲ څخه د مارچ تر ۳۱ پورې، یوناما د طالبانو له خوا د ۲۱۲ ملکیانو تښتونې مستند کړې.

[6] د دغه راپور د لیکنې پر مهال، دغه پېښه د طالبانو د ملکي تلفاتو د مخنیوي او سمع شکایتونو د کمیسیون له خوا تر څېړنو لاندې وه.

[7] یوناما د ماشومانو ۱۴۳ تلفات (۳۸ وژل شوي او ۱۰۵ ټپیان) دولت ضد عناصرو او د ماشومانو ۱۶۹ تلفات (۸۴ وژل شوي او ۸۵ ټپیان) دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي.

[8] ۲۵۷ ملکي تلفات (۹۶ وژل شوي او ۱۶۱ ټپیان).

[9] ۱۱۰ ملکي تلفات (۸۳ وژل شوي او ۲۷ ټپیان).

[10] د راپور د لیکلو په مهال دا پېښه د افغان ملي اردو د تحقیقاتو لاندې وه.

[11] د یوه هوايي برید په تړاو پیښه چې د فبروري په ۲ د نړیوالو ځواکونو له خوا په طالبانو په کندز کې ترسره شوه چې په نتیجه کې یې یوه روغتیايي کلینیک او یوه ښوونځي ته زیان واوښت. د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ ربع کې، یوناما ټولټال ۲۶ پیښې مستندې کړي کومو چې روغتیاپالنه اغیزمنه کړې او ۱۷ هغه یې طالبانو ته منسوب شوي. د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۹ کال (د ۲۰۱۹ د اپریل ۲۴ ) لومړنۍ ربع وار راپور وګورئ، چې په لاندې انټرنیټي پته د لاسرسي وړ ده: https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports.

[12] د مارچ په ۱۱ مه د روغتیا نړیوال سازمان د کوېډ -۱۹ نړیوال حالت وبا ونوموله . په دې اړه دا لنک وګورئ: https://www.who.int/dg/speeches/detail/who-director-general-s-opening-remarks-at-the-media-briefing-on-covid-19---11-march-2020

[13] https://www.humanitarianresponse.info/en/operations/afghanistan/document/afghanistan-flash-update-covid-19-daily-brief-no-24-01-apr-2020 وګورئ

[14] , په ټویټر د طالبانو اعلامیه وګورئ https://twitter.com/suhailshaheen1/status/1239594471576256512?s=20 او د طالبانو په ویبسایټ http://alemarahenglish.com/?p=33722

[15] روغتیایی مرکزونه او پرسونل یې هغه مهال خوندیتوب د لاسه ورکوي کله چې دا د بشر دوستانه فعالیت پرته کارول کیږي او د دوښمن په وړاندې زیان رسونکي فعالیت کې بوخت شي. د سره صلیب عرفي نړیوال بشر دوستانه قانون ، ۲۰۰۵ ، ۱ جلد، ۲۵ او ۲۸ مه قاعده وګورئ چې په دې لیکه د لاس رسي وړ دی : https://ihl-databases.icrc.org/ customary-ihl/eng/docs/v1 ; . او د جنیوا د ۱۲ اګست ۱۹۴۷ کنوانسیون الحاقي پرتوکول او په داخلي وسله واله جګړه کې د قربانیانو خوندیتوب پورې مربوط ۸ جون ۱۹۷۷ پروتوکول ۹ او ۱۱ مه ماده وګورئ.

[16] د نړیوال جرمونو محکمه د روم منشور ماده ۸(۲) ( سي) (اي)( ایی) ( اي) (ii ) د روغتیا پالنې د مرکزونو او کارکونکو پر وړاندې بریدونه او ګواښونه د ماشومانو پر وړاندې یو له شپږو صریح سرغړونو څخه شمیرل کیږي، څرنګه چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په پریکړه لیک کې تعریف شوي. دلته وګورئ https://childrenandarmedconflict.un.org/six-grave-violations/.